## دپاکستان آی،ایس،آي نه غواړی چی په افغانستان کی سوله راشی

افغان مشر او د پښتونخوا ملي عوامي ګوند رهبر محمود خان اڅکزي تیره اوونی په اسلام اباد کې د
پاکستان د ټولو ګوندونو هغې غونډې ته چې د پاکستان د لومړي وزیر په بلنه راغونډ شوي و د دې هېواد
د پوځ او استخباراتو د مشرانو په وړاندې له ای ایس ای څخه وغوښتل چې په افغانستان کې مداخله
ودروي او ورته یې وویل چې که د دې هېواد استخبارات (ای ایس ای) وغواړي په افغانستان کې په یوه
میاشت کې دننه امنیت راتلی شي ،دا غونډه له هغې وروسته راوبلل شوه چې امریکا په پاکستان په
ښکاره ټکو تور ولګاوه چې استخبارات یې تروریزم د خپلو ګټو لپاره کاروي او د حقاني د ډلې سره چې
په کابل کې د امریکا په سفارت او یو شمېر نورو بریدونو تورنه ده ملاتړ کوي. داسې ګونګوسې دي چې
امریکا غواړي په وزیرستان کې د حقاني په پټنځایونو پخپله بریدونه وکړي ځکه چې ورته روښانه شوې
ده چې پاکستان د حقاني شبکې ملاتړ کوي او نه غواړي چې له منځه یې یوسي،په غونډه کې د پاکستان د
مسلیم لیګ نواز ډلې مشر نواز شریف هم نیوکه وکړه او ویې ویل چې د دې معلومول په کار دي چې
امریکا ولې په پاکستان دا ډول تورونه لګوي. نوموړي وویل چې په دالو کې څه تور شته په دې مانا چې
هرومرو د استخباراتو او ترهګرو ډلو ترمنځ همکاري شته دی ،په دې غونډه کې د پاکستان له پنځوسو
زیاتو ګوندونو برخه اخیسته وه چې د پښتنو په استازیتوب په کې عوامي نیشنل ګوند چې په خیبر
پښتونخوا ایالت حکومت کوي هم برخه اخیستې وه. عوامي نشنل ګوند په دې وروستۍ مساله کې د
پاکستان د حکومت او پوځ دریځ غوره کړی دی او په داسې حال کې چې ډېری پاکستاني سیاستوال د
پاکستان او امریکا په اړیکو کې د تاوتریخوالي په اړه چوپ وو، دوی د پوځ د دریځ ملاتړ غوره کړ او په
دې اړه یې د خیبر پښتونخوا له صوبایي اسامبلې څخه یو قراداد هم صادر کړ چې په کې د امریکا د دریځ
غندنه شوې وه ،پښتنوخوا ملي عوامي ګوند تل په افغانستان کې د پاکستان مداخلې غندلې دي او د پاکستان
له پوځه یې په دوامداره توګه غوښتي چې په افغانستان کې مداخلې ودروي. د دې ګوند ډېر شمېر غړو په
فیس بوک په خپلو پاڼو د ګوند د اخریني دریځ او محمود خان اڅکزي د ویناو هر کلی کړی دی او ویلي
یې دي چې د محمود خان د دې وینا سره همغږي دي چې :که د پاکستان آيي ایس آيي په افغانستان کې
لاس وهنه بنده کړي زه ضمانت ورکوم چې په یوه میاشت کې دننه به افغانستان ته سوله او امن بیرته
راستون شی ،په لندن کې د دې ګوند فعال غړی فایق خان یوسفزی وایي چې :که د آل پارټیز کانفرنس
اعلامیه که داسې وای چې پنجاب به خپله بدماشي پرېږدي او په نورو هیوادونو کې به لاس وهنه فورا
بندوي، د نړئ ټول ترهګر به په یوه هفته کې د پښتنو سیمو نه ووځي او ځایي ترهګر به خپلې وسلې
حکومت ته سپاري او د ترهګرۍ نه به توبه وباسی، دا کانفرنس پریکړه کوي چې افغانستان به د یو خپل
واک او ازاد هېواد په توګه پیژني او که افغانستان هر چا سره دوستي کوي پنجاب به شیطاني نه کوي، د
پاکستان په خارجه او داخله تګلاره/پالیسۍ جوړولو کې به له پښتنو، بلوچو، سندهیانو ، سراییکیانو څخه
هم پوښتنه کیږي، د پنجاب فوج به په خارجه اد داخله پالیسۍ کې هیڅ رول نه لری او نه به په سیاست کې
ګوتې وهي)) نو د دې غونډې پرېکړه به ورته د منلو وړوی،دنوموړی مطلب داګلیسی متن په لاندی ډول
دی چی دښاغلی محمود خان له لوری ورسنیو ته وړاندی شوی دی.

## **If ISI Wants, Peace Can Be Maintained In Only One Month In Afghanistan: Achakzai**



Saturday, October 01, 2011 Kabul (BIA) Mahmud Khan Achakzai, leader of

Pashtoonkhua League for National People Party has said if ISI of Pakistan wanted, security would be maintained in Afghanistan in one month. Mahmud Khan Achakzai, leader of Pashtoonkhua League for National People Party has said if ISI of Pakistan wanted, security would be maintained in Afghanistan in one month. Pakistan Prime Minister Yousif Raza Gilani invited all political leaders to take part in a national conference on Thursday to assert their points of view and suggestions related to Pakistan security issues following recent statements of US officials claiming that ISI of Pakistan is supporting Taliban and Haqqani network. The session was held in Islamabad without participation of political leaders of Balunch. The conference was attended by General Ishfaq Kayani, Pakistan's general chief of staff and Shuja Pacha, head of ISI to answer questions of the participants. Two important speakers in the conference Nawaz Sharif, head of Muslim League and Mahmoud Khan Achakzai, head of national Awami party for Pashtoonkhua criticized on ISI and Pakistan army for their act in Afghanistan. In a reply to statements of head for ISI, Nawaz Sharif said recent accusations of international community and US related to ISI's support from Taliban are not without reasons, adding wherever it is smoke, there is certainly fire and there is spot in our heart. He asked for more clarifications from head of ISI related to its role in support of Haqqani network. He says

there has to be come thing for which US is putting pressure on Pakistan

ولسمشر حامد کرزي نن شپه ( د تلې ۱۱مه ) له ملي راډيو ټلوېزيون څخه په خپله اونيزه وينا کې وويل، چې د سياسي مشرانو او دولتي چارواکو پرله پسې ترور دا راښيي، چې د سولې غړ تراوسه مثبت ځواب نه دی موندلی، ولسمشر کرزی له طالبانو سره دسوله بی معنا وبلله او ويلی دی چی ددوی جواب ترور او وژنه وه اوده ،هغه زياته کړه: (( يو جانبه سوله غوښتنه، سوله نه راولي، سوله له هغه مقابل لوري سره معنا او مفهوم لري، چې پر سوله باور ولري، له همدې امله د افغانستان دولت مسؤليت لري، چې د افغانستان د استقلال او سولې له دښمنانو سره قاطع مبارزه وکړي ،ولسمشر کرزي په خپله وينا کې وويل، چې ده له پاکستان سره هر وخت د يو ورور ګاونډي په څېر چلند کړی، خو پاکستان تل د افغانستان پر وړاندې دوه ګونی سياست پر مخ بيولی ،هغه وملت دخطاب تر نامه لاندی په خپلو څرګندونو کی ويلی دی چی پاکستان حکومت په افغانستان کی دسولی په راوستو کی هيځ مرسته نه دی کړی ،نوموړي د سولې پروسې په اړه وويل، چې سوله د افغان ملت هيله ده او په دې برخه کې به موږ خپلې هڅې دوامداره وساتو، خو دا بايد تعريف شي، چې له چا سره سوله وکړو ،ولسمشر زياته : موږ په واقعيت کې له دولتونو سره يو اړخ يو، نه په هغوی پورې د ترلو ځواکونو سره، له همدې امله موږ بايد د اصلي اړخ او د واک څښتن سره خبرې اترې وکړو او يو اړخ شو. پای رحمت اله روان